# بیوزله کورنیو ته د بنسټیزو خدمتونو د غوښتنې د حق ورکولو لپاره د غیر رسمي اوسټوګنو قانوني کول

ستیفن شوت او برنډې بویر
د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

۱۳۸۶ د وری میاشت

محتوا

قانوني ملکیت د خدمتونو په برابرولو، سرمایی جوړولو او د معیشت حفاظت کې مرسته کوی چې د ښاری بیوزلۍ د لمنځه وړلو اساسی ګامونه ګڼل کیږی ۱
ښاروالی د شامل ښاری پلان لپاره ظرفیت، منابعو او لرلید ته اړتیا لری ۲
اوسنی ښاری پالیسیو کې د بیوزله کسانو په ګټه د لاربښودونونشتون، او د ځمکو نیونو لاری او غیر قانونی محوطو جوړولو پلوی احساسیږی ۳
وړاندیزونه ۴

## سریزه

جنګونه او وچکالۍ د څو کلو راهیسی د افغانستان په ډیرو ښارونو کې د غیر رسمي استوګنځایونو لامل ګرځیدلی دی په ۲۰۰۶ لمریز کال کې د طالبانو حکومت راپرځیدو وروسته د ښاری اوسیدو کچه، د مهاجرو بیرته راستنیدنه او د کار غوښته ډیره لوړه شوه د افغانستان د سیاسی بیاجوړونی وروسته په دی څو کلونو کې، ښاروالیو او وزارتونو کوښښ کړی دی څو بیوزله ښاری اوسیدونکو ته بنسټیزه خدمتونه وړاندی کړی.

د بیوزله ښاری کورنیو د ژوندانه د تیرولو میکانیزمونو او د اوسیدو د بیلابیلو تګلارو د پوهیدنی په خاطر د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره ،AREU، په ۲۰۰۵ – ۲۰۰۶ کلونو کې د افغانستان په څو ښارونو کې یوه اوږدمهاله څیړنه ترسره کړه.[1] د نوموړې څیړنې یوه اساسی لاسته راوړنه دا ده چې د ځمکی او د ملکیت ناامنی زیاتره ښاری کورنۍ د بیوزلی په دام کې راښکیل کړی او د بنسټیزو خدمتونو څخه لیری ساتلی دی قانونی ملکیت د خدمتونو د برابرولو لازم شرط ګڼل کیږی برسیره پر دی یوه مهمه سرمایه چې د ښاری ژوند د حفاظت او د غربت په راټیټولو کې ستر رول لوبوی غیر صحی اوسیدنه په نارسمی استوګنو کې او روغتیایی خدمتونو او زده کړی ته لږ لاس رسی د امنیت لپاره ستر ګواښونه دی دا ستونزی باید د خلکو د راښکیلولو او جامع پلانولو په واسطه د هڅولو، منابعو او ظرفیت لوړولو په مرستی سره هواری شی څو مسؤل ارګانونه پدې وتوانوی چې کار ترسره کړی.


دغه پالیسی پاڼه ځمکی او خدمتونو ته لاس رسی باندی تمرکز کوی او خصوصی وړاندیزونه ورکوی (۴ مخ وګورئ) دا چې څرنګه اوسنی د ښاری ځمکی پالیسۍ او د خدمتونو د رسولو لاری چاری د افغانی بدلیدونکو ښارونو په نظر کې نیولو سره سازګاره کړی شی څو بیوزله ښاریان بیوزلۍ څخه وژغورل شی.

---

## قانونی ملکیت د خدمتونو په برابرولو، سرمایی جوړولو او د معیشت ژوند حفاظت کې مرسته کوی چې د ښاری بیوزلۍ د راټیټولو اساسی ګامونه ګڼل کیږی

د افغانستان زیاتره ښاری بیوزله وګړی په غیر رسمی او هغه استوګنو کې اوسیږی کوم چې قانونی حالت نلری د مهاجرو او په داخل کې بیځایه شویو بیا راستنیدنه، په وچکالی اخته ځایونو څخه د خلکو راتلل او د ښاری اوسیدو مشاهده شوی ګټی د دې لامل شوی څو په دغه ځایونو کې د وګړو کچه لوړه شی د غیر رسمی استوګنځایونو محلی اصطلاح د زور آباد کوم چې په زور سره نیول شوی معنی لری او د هغه ځایونو څخه عبارت دی چې خلکو دولتی ځمکی نیولی او بې د رسمی اجازی څخه یې ځایونه پکې آباد کړی او چیری چې هغوی هیڅ ډول

*لومړی شکل*: د هغو کورنیو سهم چې په غیر رسمی بی د خدمتونو ځایونو کې اوسیږی





منبع د افغانستان دولت د ۲۰۰۴ کال د افغانستان د راتلونکې د امن کول تخنیکی ښاری ضمیمی څخه اخستل شوی

[1] اوږد مهاله څیړنه د هرات، کابل او جلال آباد ښارونو په ۴۰ کورنیو کې ترسره شوی کوم چې د لنډ مهاله دوباره کمیسون شویو څیړنو سره د مزار شریف او پل خمری کې تایید شوه د څیړنې د میتودولوژی او مقصد په خاطر د نورو معلوماتو لپاره د جی بیل او ستیفن شوټ د ۲۰۰۶ کال په افغانستان کې ښاری ژوندون، کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونی اداره.

### د لیکوالانو په هکله

ستیفن شوت د دغه څیړنیزه اداری د ښاری معیشتونو پروژه له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۶ پوری اداره کوله اوس مهال، نوموړی د ځمکو د پالیسی او اداری سمون د یوی پروژی د ډلی مشری په غاړه لری، دغه پروژه د بین المللی پرمختګ لپاره د برتانیې سازمان، آسیایې انکشافی بانک او د کرنی او اوبه لګونی وزات په ګډه مخکی ځی او برنډې بویر په دغه اداه کې د ښاری معیشتونو، جنسیت، سیاسی اقتصاد او حکومت داری مسایلو په اړه خپرونی د ۲۰۰۶ کال ترمنځ پوری اداره کولی په نږدی تیر وخت کې نوموړې په اړونده مسایلو کې زیاتو امریکایې سازمانونو سره د مشاوری په توګه کار وکړ.

*دویم شکل*: د هغه کورنیو شمیره چې خپل کور لري او یا د ملکیت اسناد لري.




قانوني حقوقو ته د حفاظت د ښه کولو لاس رسی نلري. تیری احصایې چې د افغانستان دولت لخوا خپرې شوې دي ښودلې ده چې کابل کې ۶۰، په مزار کې ۳۰ او په هرات کې ۲۵ فیصده وګړي په ناقانونې کورونو کې اوسیږي.[2]

که څه هم لکه څرنګه چې په دویم شکل کې ښودل شوی ده، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د څېړنې مطابق دغه شمیري کیدای شي ډیری زیاتې وي کله چې د دریو ښارونو اوسیدونکو څخه (پوښتنه وشوه چې آیا کورونه یې خپل دي او د دوی دارایي قانوني سند لري په عمومي ډول قانوني موافقو سره یوځای) ، نو یو تعداد ډیر محدودو دغه اسناد وړاندي کړای شو.

په غیر رسمي استوګنو کې د اوسیدو معیار په اکثره واقعاتو کې کولای شي چې بېوزله کورنۍ په ډیر بد حالت کې وساتي. د دوی د پلان کړای شوی اوسیدنې او د ویستلو اټکل شوی چانس، اوسیدنه کیدای شي زیاتره بېوزله او زیاتره پدې کې پاتې راځي چې مناسب او دوامدار فزیکي سرپناه برابره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري څېړنې دا هم په ګوته کړه چې زیات شمیر اشخاص په یو ځای کې ژوند کوي په اوسط ډول څلورو څخه تر پنځو وګړو په ځېړل شویو وګړو کې له یوې کوټې څخه ګټه اخیسته. بیا هم د اکثره بېوزله کورنیو لپاره د حکومتي ځمکو نیول او د غیر رسمي استوګنو جوړول دوی ته دا امکانات ورکوي چې خپل کور ولري.

په مستقیمه پایله کې د خپلې ځمکې د قانوني وسایلو د نشتوالي سره سره، زیاتره ښاري اوسیدونکي د بنسټیزو خدمتونو څخه بې برخه دي، لکه اوبه، بریښنا، روغتیا او پاکوالي برسیره د قانوني استوګنې، بنسټیزو اړتیاوو او ټولنیزې زیر بنا ته لاس رسی، د انساني سرمایې جوړونې او د اشخاصو او کورنیو سلامتي لپاره لازمي شرط ګڼل کیږي تر دې دمه د افغانستان په ښاري ځایونو کې د خدمتونو په برابرولو کې لویه ستونزه موجوده ده او په بېوزلو ښاري کورنیو کې زیاتره لیدل کیږي (دریم شکل وګورئ) په زیاتو استوګنځایونو کې دډیرو لږو او حتی هیڅ ډول خدمتونو د برابرولو امکانات کورنۍ دي ته اړ باسي څو د ژوندي پاتې کیدو لپاره فشار او د روغتیا تهدیدونکي تګلاري خپلې کړي. په پایله کې کورنۍ دې ته اړ کیږي څو په ټولنیزو شبکو باندې ،لکه ملګري، خپلوان او ګاونډیان د خدمتونو د لاس ته راوړلو لپاره اعتماد وکړي. دا په ښار کې د اوسیدو لپاره، د دولت لخوا د خدمتونو د برابرولو د نشتوالي لپاره د دوی لومړنی لار ګڼل کیږي.


[2] د افغانستان حکومت، ۲۰۰۴ کال، د افغانستان راتلونکي امنولو تخنیکي ښاري ضمیمه د افغانستان حکومت کابل

## ښاروالی د شامل ښاري پلان لپاره ظرفیت، منابعو او لرلید ته اړتیا لري

په روایني ډول، ښاروالۍ د ښاري ځمکو د ویش، خدمتونو ته د لاس رسنې او د سیمه ییزه اقتصادي پرمختګ مسؤولیت په غاړه لري. په افغانستان کې ښاروالۍ د ښاري ژوند د ښه والي د ګړندۍ ګام لپاره په ټول هیواد کې د لسیزو زاړه ماسټر پلان له کبله، چمتو ندي. ځکه خو نتیجه یې د پلان جوړونې یو نادرست سیسټم، سره د داسې کارکوونکو دي چې د ښاري خلکو د ژر بدلیدونکو اړتیاوو سره د برابرۍ ظرفیت نلري. نامعلومه ماموریت، له اړونده وزارتونو سره د حد څخه زیات کاري نقشونه، او د قانوني دندو لپاره د ځمکو په ورکولو کې بې میلي، دغه ستونځه لانوره هم زیاته کړې دی.

له دغو خنډونو څخه مطلب دا دی چې ځنې کارونه دي چې ښاري مقامات نشي کولای، د ظرفیت، صلاحیت او یا منابعو د نشتوالي له کبله هغه تر سره کړي. د بیلګې په توګه، کابل د ولایاتو له مراکزو څخه غواړي چې هغوی مالیات ورکړي او په بدل کې هغوی ته یوازې دومره پیسې ورکوي چې یوازې د ښاروالۍ د کارکوونکو تنخاوې پوره کوي، او هغوی ته دا صلاحیت نه ورکوي چې خپلې منابع وروزي، نو د ښارونو د زیربنا لپاره به پانګې اچونې رامنځته نشي. له بلې خوا، که بېوزله خلک د نه رسیدو وړ ځایونو کې غیر رسمي سر پناوې جوړې کړي، لکه د غونډیو پر سر په کابل او یا د کابل په شاه و خواکې، نو له ښاروالۍ څخه داسې تمع نشي کیدای چې هغوی د لاس رسنې نه وړ سیمو ته پوره خدمتونه ورسوي. څه شی چې دغو ستونځو ته لازیات اور ورته کوي هغه هم د ښاروالیو د منابعو نشتوالي او هم د ملکي خدمت کوونکو تر منځ د مساوي پرمختګ پر وړاندې د مسؤولیتونو د منلو ضعیفه احساس دی، چې د څېړنو په سیمو کې د ښاروالۍ د یو مامور له خبرو څخه دغه په روښانه توګه څرګنده ده چې وییل یې: "لومړې باید موږ خپل فکر وکړو، او بیا موږ کولای شو چې په ښار کې د بېوزله خلکو په هکله فکر وکړو" نتیجه دا ده چې ښاروالۍ او نورې حکومتي موسسې هڅه کوي چې غیر رسمي استوګنو باندې چې قانوني موقف نلري سترګې پټې کړي، که څه هم په دغو استوګنو کې میشت خلک د افغانستان په سترو ښارونو کې د نفوس یوه زیاته برخه جوړوي د بېوزله خلکو

*دریم شکل*: په څېړل شویو کورنیو کې بنسټیزو خدمتونو ته لاس رسۍ (په هر ښار کې ۴۰ کورنۍ)





۔ جلال آباد په یو کمپ کې د زیات شمیر غیر رسمي کورونو څخه یو مثال

په ګټه د ځمکو د پالیسی د رامنځته کولو په مخه بې میلی، د غیر رسمي استوګنو تصدیقول او د منسجم لرلید نشتون چې دغه استوګنې ښاري پلان جوړونه کې شاملې کړي، دغه ټول به د استوګنو خلکو په شړنه باندې منتج شي، چې دغه خلک به د بیوزلې په تلک کې را ایساروي.

ضعیفه ښاري حکومت داری د ځمکو د نیولو پیښې راپورته کړي دي تر ټولو لا ښکاره مثال په مرکزي کابل کې د شیرپور استوګنځي دی وروسته له څو لسیزو څخه خلک له هغه ځای څخه په بیړه وشړل شول او غریبانه کورونه یې وران کړای شول او د هغو پر ځای د حکومت لوړ رتبه مقاماتو لپاره، چې د هغو ځمکو قانوني حق د انعام په بڼه ورکړ شوی وو، هوسی او مجلل کورونه آباد شول دغه یوازنۍ پیښه نده بلکه یو پراخ بنسټه ستونځه ده چې له ټول افغانستان څخه، هم له ښاري او هم له کلیوالـه سیمو څخه، راپور شوې ده.

څنګه چې ښکاري، ښاري ټولنې چې په غیر رسمي استوګنو کې ځای پر ځای دي د اساسي خدمتونو او ټولنیزه زیربنا څخه بې بهره دي او بیا متضاده پیښې چې د پورته شان شړلو څخه وړاندې کیږي چې په همدغه وخت کې بیا د ځمکو قانوني نیوني پیښیږي، د مساوي پرمختګ د ترقي او ښاري بیوزلې له منځه وړلو په مخه د حکومت مسؤلیت تر سوال لاندې راولي.

## اوسنۍ ښاري پالیسیو کې د بیوزله کسانو په ګټه د لارښودونو نشتون، او د ځمکو نیونو لاری او غیر قانوني محوطو جوړولو پلوی احساسیږي

دی حقیقت سره چې زیاتره ښاري کورنۍ د هیڅ ډول ځمکې قباله او د کور مکلیت کوم امکانات نلري، د غیر رسمي کورونو لپاره د پاییدونکې حل لاری موندل باید د حکومت د لومړیتوبونو د لست په سر کې وي تیرو څیړنو او همدارنګه د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري اوسنیو څیړنو د استوګنو د رسمي کولو لپاره سپارښتنې کړې دي[۳] شواهد ښکاروي چې په ځنو حالاتو کې، په غیر رسمي استوګنو کې میشتو خلکو خپلې منابع د خپلو کورونو په معماری په ښه کولو باندې لګوي دغه کار هغوی ته دا احساس ورکوي چې د ځمکې په نیولو باندې د خپل د حقونو د رافعې قوا ورکړي او په ښاروالۍ باندې فشار راوړي چې دا خلک کولای شي په نیول شویو کورونو کې پاتې شي په جلال آباد کې یوه سیمه د اشتراکي عمل د قدرت یو دیر ښه مثال دی وروسته له هغه چې د دغه سیمې خلکو د بلډوزرونو د شړلو په مخه مقاومت ښکاره کړ، هغو له ښاروالۍ او د ښارونو د پرمختګ له وزارت څخه وغوښتل چې د هغوی استوګنې رسمي کړي د ځمکو د قباله کولو نقشه پیل شوه، که څه هم دغه کار د هغو اوسیدونکو لپاره د یو لوړ قیمت په بیه تمام شو، له کومو څخه چې په زور وغوښتل شوو چې خپل کورونه د همغې سیمې په بل موقعیت کې له سره ودان کړي د دغه سیمې ټولو کورنیو نوی جوړ شوي استوګنځې کې د اوسیدو لپاره پیسې وګټلې د دغه کار په کولو سره هغوی د منظمو اساسي خدمتونو د غوښتلو حق ترلاسه کړو خو بیا هم د یادونې وړ ده چې دغه استوګنه یوازې هغه وخت جوړه شوه کله چې څرګنده شوه چې د ښار د اوسني ماستر پلان لپاره د تخصیص شوي ځمکې له سرحدونو څخه بهر وه.

که څه هم دغه د یو ډلیز عمل مثبت مثال دی چې د یوې ټولنې له مقاومت څخه[۳] رامنځته کیږي، خو همدارنګه د حکومت د وړاند فعالیت د اندازو نشتوالی ښکاروي په نتیجه کې، زیاتره ښاري کورنۍ دغه ،اکثره عادلانه انګیرنه کلکه نیسي چې دولتي ماموران د بیوزله خلکو اړتیاوو ته احترام نلري، او یا دا چې فاسد دي، او په مسایدو حالاتو کې رشوت اخلي په کابل کې د ځنو کورنیو راپورونه په کوته کوي چې د ځمکو د تخصیص لپاره د هغوی پاسره شوي پیسې د ښار د مامورانو جیبونو ته ولاړې.

په افغانستان کې د ځمکو د نیونې ستونځه باید چې ژر او په اغیزمنه ډول په ګوته شي مخکې له دې چې حکومت د قباله کولو د زیاتو پیچلو، د لوړو بیو او د تعمیل نه وړ پروسو په هکله فکر وکړي، ممکن د غیر رسمي محوطو ،چهاردیواری عمومي بخښنه یا عفو عمومي اعلان کړي دغه کار به د غیر رسمي کور لرونکو لپاره بیړګنده امنیت برابر کړي او د پخو او پرمختللو کورونو جوړولو لپاره پانګه اچونه وهڅوي د دغې شیوې د تطبیق امکان لومړی ارزونه به داسې ښه وي چې؛ په ښاري ځمکه باندې ټاکل شوی ګټې چې ښایي د دغه شان نوښت په وړاندې خنډ وګرزي، په پام کې ونیول شي یو لازمي ګام هم، د سمو اسنادو سره د ځمکو د قبضه کولو پیښ شوی واقعات دي چې باید په ګوته شي دغه شان پیښې په ښارونو کې د حکومت داری ضعیفه ګڼچه او په افغانستان کې اوسنۍ سیاسي اجنډا کې د بیوزله خلکو په پلوی پالیسي د لارښود نشتون راڅرګندوي بر سیره پر دې، دغه شان پیښې د قدرت لرونکو اشخاصو، چې بې وزله کورنۍ لا نور هم په بیوزلې کې ډوبوي، دهغو اشخاصو تر منځ د معافیت کلتور ته وده ورکوي.

[۳] د بیلګې په توګه جې بیل او ایسر وې ډ..۲کال د مارچ د میاشت خپرونه ښارونو راتلونکې ته ښه ورکول افغاني ښارونو حکومت او اداري ګوانبونه، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره کابل او دیورند کرخه ای او وی، کلرکډنا منظمو استوګنو سمون او بشپړونه تجاربو پر بنسټ سبقونه د ښارونو د اداری د پروګرام د څبرونو لړی، شمیره ۲ نایروبي د ملګرو ملتونو انکشافي پروګرام نړیوال بانک ۲۰۰۹ زیږدیزکال

# وړاندیزونه

## ۱ د رونق لرونکي غیر رسمي توب او د رسمي ماسټر پلان د ټینګښت تر منځ د بحث یوه لار رامنځته کول

- د پلان جوړونې یو پراخ کاري چوکاټ رامنځته شي چې د ښاري نفوس زیاتیدنه چې له ګاونډیو هیوادونو څخه د راستنیدونکو د بیرته راتللو په نتیجه کې رامنځته کیږي، او همدارنګه عاملونه چې د کلیو او سیدونکو ښاري سیمو ته را کشوي.
- د ښاروالانو او د ښاروالیو د کارکوونکو ظرفیت لوړ شي له هغو سره مرسته وشي چې د پخوانۍ تخنیکي پلان جوړونې له شیوې څخه چې یوازنۍ ماسټر پلان سره مل ده، د دې منلو ته ور واوړي چې د پلان جوړونې په پروسه کې د ښار د اوسیدونکو موجودیت مهم دی هغوی ته دا توان ورکړي شي چې لا زیات انعطاف منونکي اوزار رامنځته کړي چې ښاري اوسیدونکو، خصوصاً د بیوزلو خلکو د میشتو واقعیاتو سره د توافق وړ وي.
- د ښاروالیو او اړونده وزارتونو ترمنځ انسجام او همکاري سمه شي د دې مسالې د ډاډه کولو لپاره باید واقعیتونو ته انکشاف ورکړ شي د بیوزله خلکو په ګټه د ښاري پرمختک په مخه د خدمت د تیاري زیاتره بیرته پاتې کیدنه او ځنډونه د حکومتي سازمانونو د ناتوانی او د یو ځاي کار کولو لپاره د هغوی د بې میلې له کبله ده د نورو هیوادونو د انسجام کامیابه جوړښتونه مطالعه شي تر څو په افغانستان کې د زیاتو د کار وړ د حکومت د ښاري چارو د اداري موسسې رامنځته کیدل اسانه شي.

## ۲ د غیر رسمي استوګنو په رسمیت پیژندل او قانوني کول

- د ښاري ځمکو یوه ملي پالیسي رامنځته شي چې د مساوي انکشاف هدف څخه آګاه وي او ښاروالیو ته داسې لارښوونه برابره کړي په کومو کې چې حالات د میشتو استوګنو د قانوني کولو او په رسمیت پیژندلو وړتیا ومومي دغه پالیسي باید هتماً دا په نظر کې ولري چې هغه خلک چې د ژوند نه وړ ځمکو کې ژوند کوي د هغوی لپاره څنګه استوګنځي برابری شي.
- په ځمکو باندې چې پخوا قبضه شوي هغه سمې شي، او ډاډه شي چې له مرتکبینو څخه د ځمکو مالکیت اخستل کیږي په داسې حال کې چې میشت خلک له بیړګنده شړلو څخه وساتل شي.
- د هغو استوګنو خلکو لپاره د ځمکو نیولو امنیت برابر شي چې په رسمیت پیژندل شویو غیر رسمي ځمکو کې ژوند کوي د ځمکو د قباله کولو او د تخصیص نورو نقشو لپاره شیوې په نظر کې ونیول شي، خصوصاً هغه شیوې چې ورته اسلامي هیوادونو کې له جګړې څخه وروسته فعالیتونو پر بنسټ ولاړې وي.

## ۳ د هیواد په ګوټ ګوټ کې دې اساسي خدمتونه ډاډه شي (اوبه، بریښنا، بدرفت ځاګانې او روغتنپالنه، او سړکونه)

- د دولتي موسسو تر منځ، چې د خدمتونو په برابرولو کې بوخت دي مفاهمه اصلاح شي، په شمول د نقشونو او مسؤلیتونو د تفسیل، او د انسجام یوه وسیله رامنځته شي.
- د حکومتي او نا حکومتي سازمانونو تر منځ، چې د خدمتونو په تیارولو کې لاس لري، مفاهمه او انسجام سم شي، تر څو تجربې سره یو ځاي او مسؤلیتونه وویشل شي.
- د ښځو او نارینه وو په شمول د ټولنو څخه د خدمتونو د معیارونو د سم تجویز لپاره مشوره واخستل شي او د فعالیت او ساتنې مسؤلیتونه وټاکل شي.
- هغو ځایونو ته چې رسیدنه سخته ده هغو ته د خدماتو د سپارنې لپاره تخنیکي خلاقیت تشویق شي، او ډاډه شي چې د نابرابرو موسسو دندې د ښار په کچه سره تړون لري.
- د خدمتونو د سپارلو د دندو د رامنځته کولو قوه و منل شي او ښاري بیوزله اوسیدونکي ,ښځې او نارینه د کوچنیو کچو معامله کوونکو په شان د خدمتونو په سپارلو کې شاملول.

AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشي کوڅه (د دوهمې کوڅې ګوښه)
نوی ښار کابل
ټلفون ۰۹۳ (۰) ۷۹۹۲۰۸۵۴۸
بریښنا پته areu@areu.org.af
بریښنا پاڼه www.areu.org.af